ترتیب و تنظیم: **هژبر شینواری**

# د پښتـو ادب مرغلـری



**چې پکې سوز د مینې نه وي، آزږکې څه په کـار؟**
**چې میخور مست او خمار نکړي، هغه مې څه په کـار؟**
**که هر ګل راوړي، خو چې را نه وړي د سولې ګلان**
**هسې بې خونـده او بدرنګـه پسرلـې څـه پـه کـار؟**
**خوږلن**

**یادونه:**

په یوه پسرلنۍ ادبي غونډه او مشاعره کې کومه چې په تورنتو کې جوړه شوې وه، زه خوږلن ته وی څیرمه ناست وم، او غوښته مې ترې وکړه که چیرې خپله لنډه بیوګرافي او د کلام نمونې ماته راولیږي، ترڅوېې د "آشیان" د مجلې له لارې د هغه د شعر او شاعرۍ مینه والوته پیشکش کړم. خوږلن له وعدې سره سم خپله لنډه بیوګرافي او د کلام نمونې ماته راولیږلې چې دادې تاسو د شعر درانه مینه وال یې لوستوته رابولم.

هژبر شینواری

## پیژندنه:

په ۱۳۳٤ لمریز کال کې د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالۍ د سرخاب په ښکلې او شاعرانه سیمه کې مې، کومه چې دنګو او هیبتناکه غرونو ته ورڅیرمه پرته ده، نړۍ ته سترګې پرانستلې. د خاټول په نامه واړه کلي کې مې کوم چې د یوې لوړې تپې په سر پروت، او یو نری پیچومې یې له شنو کروندو او سمسورو باغونو سره نښلوي د ماشومتوب خاپوړې پیل کړلې- همدارنګه د کوچنیوالي پاپلې او لمړی قدمونه مې هم په همدې کلي کې اوچت کړل، او د ماشومتوب د شیرې غاښونو تر رالویدو وروسته په سیمه کې د ښونځي د نشتوالي له امله کابل ته را په کډه شولو.

لمړنۍ زده کړې مې د چهلستون په لمړنې ښونځي، او عالي زده کړې مې د محمود طرزي په لیسه کې بشپړې کړلې. د کانکور د آزموینې تر تیرولو وروسته د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي کې شامل او ۱۳۵۹ لمریز کال کې له نوموړي پوهنځي څخه فارغ شوم.

سره له دې چې د طب پوهنځي علمي کدر ته د شاملیدو په ټولو معیارونو برابر وم، خو له بده مرغه د ځنو سیاسي ملاحضاتو پر بنا کوم چې په هماغه وخت کې مطرح وو علمي کدر ته د شاملیدو ارمان مې ترسره نشو، او علمي کدر ته هغو کسانو لار ومونده کوم چې د واکمن ګوند غړي وو او د تعلیمي کال نیمايي موده یې له درسي صنف، لابراتوار، کلینیک او روغتون څخه بهر له خپلو بې ګناه وطنوالو سره د جګړې په سنګر کې تیره کړې وه.

له پوهنځي نه تر فارغیدو وروسته له خپلې خوښې پرته اجبارا د وقایوي طب د روغتیايي ښوونو او خپرونو په دیپارتمنت کې مقرر شوم او څه د پاسه اته کاله د رادیو او تلویزون د طبي او روغتیايي پروګرامونو او خپرونو له لارې د هیوادوالو په خدمت کې وم.

د ۱۹۸۹ میلادي کال په پسرلنیو شپو او ورځو کې مې د وطن له رنځوری او زخمي زخمي مور سره په ژړانده سترګو خدای پاماني وکړه، او د رحمان او خوشحال بابا د استوګنې د سیمې یعنې پیښور په لور وخوځیدم. په پیښور کې مې درې کاله د نړیوال سره صلیب د روغتون د وینې په بانک کې دنده ترسره کړه، او د خپل مسلکي کار په څنګ کې به کله کله د خوشحال او رحمان بابا مزار ته هم ورتلم او څو شیبې به مې هلته د خیال او خلوت په دنیا کې له هغو سره شاعرانه راز او نیاز هم کاوه.

بالاخره په ۱۹۹۲ میلادی کال کی له خپلی میرمنی او یو ماشوم سره کانادا ته راغلم او تر دغه مهاله پوری چی دغه کرښی را کاږم له خپلی میرمنی او دری زامنو (بلال، میوند، خیبر) سره په تورنتو کی استوګنه لرم.

خیالات می لا هماغه وخت شاعرانه شوی وو کوم چی په کلی کی به د کلیوالو د شپیلیو د انګازو په زیر او بم د ناز په خوب ویده کیدلم- او سهار به د غرنیو مارغانو په سندریزو نغمو له خوبه راویښیدم. په غاټولو فرش دنګ غرونه او پراخ ډاګونه، د پنځلسم سپوږمی، د ګودر مازدیګرنی ننداری، د شپانه د شپیلی کرنګا، توره کیګدی، رمه، کوچیانی ښکلا... دا ټول هغه عوامل وو چی زما ویده خیالونه یی تخنول او راویښول، او بالاخره د عمر په تیریدو همدغو تخنیدلو خیالونو شاعرانه رنګ واخست او دا دی نن می د شاعری د ونی پر څانګو د شعر ځنی سپړیدلی ګلونه او ځنی ناسپړیدلی غوټی تر سترګو کیږی. لمړنی شعری مجموعه می د "نغری او سپیلنی" په نامه په کابل کی خپره شوی، او د شعرونو پر دوهمه مجموعه باندی می کار روان دی.

خوږلن

## د خوږلن د شاعرانه کلام څو بیلګی:

## ماتی توبی

که محتسب می په تندی باندی دری ماتی کړی
ما هم په ډک جام د تقوا ټولی ښیښی ماتی کړی
د پایکوبی مسته نغمه یی غږولی نشوه
ځکه مستانو د مطرب د ساز پردی ماتی کړی
چی سمندر می د رحمت ولید څپاند، نو ځکه:
ما د ګناه له پیمانو، کړی توبی ماتی کړی
جار د بدمستو له ایمان چی د ثواب په نوم یی
د ریاکاره واعظانو کړی خولی ماتی کړی
څوک معتکف د جومات کنج کی د دوزخ له ویری
چا میخانه کی د جنت په شوق پیالی ماتی کړی
شیخ د مولا د قار له ویری شپه او ورځ روژه دی
مایی په هیله د کرم ټولی روژی ماتی کړی
د بدنامی مقام ته مفت خو رسیدلی نه یم
ما تر دی ځایه د ننګ ډیری دروازی ماتی کړی
د ریاکار زاهد غندنه په غزل نه کیده
ځکه "خوږلن" ورته د شعر قافی ماتی کړی.

## څلوریځی

په خیر راغلی پسرلیه! ستا هر ګل ته سلام
چی غږ وی د عشق نغمی، ستا هر بلبل ته سلام
چی د وطن له ګله پرته، پکی بل ګل نه ږدی
هغه پیکی، هغه شملی، هغه وربل ته سلام
خوږلن

توری څڼی، سور سالو، ستا شنه خالونه
نرموی هره سینه کی کاڼی زړونه
تل ولاړ په درناوی یم درته ځکه
تا کی وینم د ملی بیرغ رنګونه
خوږلن